## د سعودي عربستان لخوا د اټومي وسلو هڅې د لوېديځ نفوذ پیاوړی کوي



**خبر:**

تېره اونۍ ولیعهد محمد بن سلمان په يو مرکه کې خبرداری ورکړ، که ايران اټومي وسله جوړه کړي، نو سعودي عربستان به يې هم جوړه کړي. د محمد بن سلمان خبرداری نه يوازې له ايران سره د هغې اټومي هوکړې پر دوام اغېز لري، چې په ۲۰۱۵ م کال کې ترسره شوه، بلکې د لوېديځ له اغېز څخه د اسلامي نړۍ د ژغورلو هڅې هم کمزورې کوي.

**تبصره:**

د وليعهد محمد بن سلمان دا ډول څرګندونې د امريکا د بهرنيو چارو د وزير ريکس ټيلرسون له ګوښه کېدو سره سمې رابرسېره کېږي، چې نوموړی له ايران سره د شوې اټومي هوکړې د بيا کتنې خلاف و. داسې برېښي چې په سپينه ماڼۍ کې ولسمشر ټرمپ له ايران سره د شوي اټومي تړون د تعديلولو په لټه کې دی. که ټرمپ او د هغه مرستيالان په ريښتيا هم په منځني ختيځ کې د سولې هيله لري، نو بايد د کېنيټ والټز څرګندونو ته په سمه توګه پام واړوي.

د نوي رياليزم پلار کېنيټ والټز د امريکا له لومړنيو پوهانو څخه دی، چې د شته حالت خلاف يې په منځني ختيځ کې د اټومي وسلو د شتون ملاتړ کړی. والټز څرګنده کړې، چې په منځني ختيځ کې د يهودي دولت اټومي غوراوي دوی ته له خپلو ګاونډيو سره د متعارفي(مخامخ) جګړې زمينه برابره کړې او په ټول منځني ختيځ کې يې ناارامی ته لمن وهلې. والټز په دې باور دی چې په اټومي وسلو سمبال ايران به يهودي دولت له متعارفي جګړې څخه را وګرځوي، په ځانګړې توګه په هغو هيوادونو کې چې د ايران تر زيات نفوذ لاندې دي، لکه: لبنان او سوريه.

همداراز والټز وايي، چې د اټومي وسلو زياتوالی به يو ډول توازن را منځته کړي، چې د سيالو دولتونو له لورې به د تاوتريخوالي او د جګړې د غوښتنو کچه را ټيټه او د اټومي جګړې مخه به ونيسي. د دې کړنې د ترسره کولو له امله نړدې ده چې سوله د بې ثباتی او نفوذ ځای ونيسي.

په ضمني توګه، د والټز د ارزونې پر بنسټ په سيمه کې به د اټومي وسلو پراختيا د هغو دولتونو تر منځ د ثبات په منځته راتګ کې اغېزناکه ثابته شي، چې تر منځ يې د ايډيالوژيو توپير موجود دی. ځکه د والټز په اند کله چې نړۍ دوه قطبي وه

او سرېﻩ جګړﻩ روانه وﻩ، همدې اټومي وسلو د ثبات په ساتلو کې مرسته وکړﻩ او په راتلونکي کې به په منځني ختيځ کې د دوو قطبونو د جوړېدو پر مهال ايران او يهودي دولت د دوو بېلو قطبونو برخې وي.

د محمد بن سلمان له لورې د اټومي وسلو د لاسته راوړلو هڅې د والټز د نظريې پر خلاف دي او په سيمه کې د ايران د ځمکنيو ځواکونو د نفوذ پر وړاندې ځرګندې هڅې دي. د سعودي عرب له لورې پاکستاني ځواکونو ته له وروستي بلنې څخه موخه دا دﻩ، چې د يمن په جګړﻩ او همداراز له شاهي دولت سرﻩ په کورني ثبات کې مرسته وکړي. [خليج ټايمز]

د سعودي او ايران تر منځ اختلافات حتمي دي، خو دا اختلافات ايډيالوژيکي ريښه نه لري. وهابيزم او شيعه‌ييزم د اسلامي فقې دوﻩ ښاخونه دي. پر دې سربېرﻩ د ايران او سعودي عرب ترمنځ اختلافات د يهودي دولت په پرتله ايډيولوژيک نه دي. د دواړو هيوادونو خلک يهودي دولت ته د يو پردي دولت په سترګه ګوري او د صليبي جګړې يوﻩ برخه دﻩ چې له دولسمې پېړۍ را په دې خوا دوام لري.

د محمد بن سلمان لپارﻩ غورﻩ دا دﻩ، چې د اټومي وسلو لاسته راوړلو هڅې د يهودي دولت د اټومي غوراوي پر وړاندې تر سرﻩ کړي. په دې توګه به ان په سيمه کې؛ د ايران تر څنګ د منځني ختيځ ټول اوسېدونکي د دې هڅې پراخ ملاتړ وکړي. د دې کار بله ګټه په سيمه کې د مسلمانانو د زياتېدونکي ملاتړ خپلول دي، چې له امله به يې په اسلامي نړۍ کې مسلمانان وهڅول شي، چې صليبي پروژو ته د پای ټکی کېږدي.

محمد بن سلمان ټينګار کوي چې د ايران پر وړاندې به د اټومي وسلو جوړولو ته مخه کړي. په داسي حال کې چې د فلسطين پر سپېڅلې خاورﻩ باندې د يهودي دولت ښکېلاک ته مشروعيت ورکوي. له دې څخه جوتيږي، چې سعودي عرب د ايران پر وړاندې له يهودي دولت سرﻩ لاس يو کړی او د مسلمانانو تر منځ د يووالي مخه نيسي.

دا ښکارﻩ دﻩ چې نه ايران او نه هم سعودي عرب د دې وړتيا او ظرفيت لري، چې د اټومي ځواک په لرلو سرﻩ يوې باثباته رهبرۍ ته لارﻩ هوارﻩ کړي. دوی لا هم د لوېديځ په ملاتړ د يهودي دولت د پياوړتيا سبب شوي دي. يوازې خلافت کولای شي، چې په برياليتوب سرﻩ د اټومي پياوړتيا پر مټ له لوېديځ سرﻩ سيالۍ ته را ودانګي او د لوېديځ نفوذ نه يوازې په منځني ختيځ کې بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې پای ته ورسوي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: عبدالمجيد بهاټي**

**ژباړن: عبدالله لطفي**